# جریده میزان

قـوهٔ قضائیه

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳


چهار شنبه ۱۳ مرغومی ۱۴۰۲ هـ ش ۲۰ جمادی الثانیه ۱۴۴۵ هـ ق ۳ جنوري ۲۰۲۴ م مسلسله شمېره (۵۳)


## د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات په هدایت د امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ او د ولس ستونزو ته پر وخت د رسېدو په موخه د هیواد ټولو ولایتونو ته پلاوي لیږل شوي دي

د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په هدایت د هیواد ټولو ولایتونو ته پلاوي لیږل شوي دي، ترڅو ولایتونو کې د محاکمو د مسؤولینو، د ولایتي امنیتي او ملکي ادارو د مسؤولینو تر منځ د همغږۍ غونډې جوړې کړي.

د محترم شیخ صاحب د هدایت له مخې به د سترې محکمې مؤظف پلاوي له ولایتي اداري مسؤولینو سره په ناستو کې د امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ د تقویې او د خلکو غوښتنو او ستونزو ته د ژر رسېدنې پر لارو چارو خبرې وکړي.

د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په وینا چې ذکر شوې اداري هغه مرجع دي چې د ولس ستونزې او اواز لومړی تر دوی پورې رسیږي، نو د ولس ستونزو او غوښتنو ته په ټاکلي وخت د رسېدو لپاره اړینه ده چې یادې اداري خپلو منځونو کې کلکه همغږي او قوي اړیکي ولري.

د شیخ صاحب په وینا، افغان ولس په تېرو ۴۰ کلونو کې ډېرې ستونزې، زحمتونه او سختۍ ګاللي دي، نو باید نور یې خدمت ته لاسونه بډ وهل شي او مشکلاتو ته یې په هره ممکنه لار رسېدنه وشي.

د یادونې وړ ده چې د سترې محکمې پلاوو د هیواد ځینو ولایتونو ته خپل سفر ترسره کړي دي او پاتې ولایتونو ته به هم سفر وکړي.

## د سترې محکمې د جزا دېوان د عمومي رئیس په هڅو بلخ ولایت کې د مقتولې کورنۍ قاتل ته بخښنه وکړه

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس محترم مفتي عتیق الله (درویش) د مفتي عبدالحی (شاکر) په ملتیا بلخ ولایت ته د سفر پر مهال د قتل د یوې موضوع له طرفینو سره وکتل او د یاد پلاوي په ترغیب د مقتولې وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه.

یاده پېښه چې په نتیجه کې یې یو کس یوه مېرمن په قتل رسولې وه د بلخ ولایت محاکمو ته تر راجع کېدو وروسته د مربوطه محاکمو لخوا په غور او دقت وڅېړل شوه. ابتدائیه او مرافعه محکمې دغه دوسیه نهایي کړې وه؛ خو د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئیس او ورسره مل پلاوي د قضیې له طرفینو سره په کتنه کې د مقتولې وارثین د قاتل بخښنې ته ترغیب او وهڅول او په نتیجه کې د مقتولې وارثینو قاتل ته بخښنه وکړه او قضیه یې په رسمي ډول پای ته ورسېده.

د یادې پرېکړې تر ابلاغ وروسته د قضیې دواړو لوریو خوښي څرګنده کړه او قاتل په خپل عمل پېښمانه او د مقتولې له وارثینو یې بخښنه وغوښته.

## د محترم قاضي القضات په هدایت د سترې محکمې یوه پلاوي ننګرهار، لغمان او کونړ ولایتونو ته سفر وکړ

دوشنبه (۱۴۴۵/۶/۱۱ هـ ق) نېټه د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په هدایت د ولایتي محاکمو د مالي او اداري چارو د تنظیم او بررسۍ په موخه د سترې محکمې یوه پلاوي ننګرهار، لغمان او کونړ ولایتونو ته سفر وکړ.

دغه پلاوي چې مشري د سترې محکمې مالي او اداري عمومي رئیس محترم حاجي مولوي کریم الله (زاهد) کوله او په تشکیل کې یې د قضائیه قوې د امنیتي او اجرائیوي چارو عمومي رئیس محترم حاجي مولوي محمد عوض (سعید)، د مالي او حسابي چارو رئیس محترم ملا محمود (اخند)، د تعمیراتو آمر محمد صابر (صدیقي) او د بودجې آمر عبدالله (حبیب یار) هم ګډون درلود، د یادو ولایتونو د مرافعه محاکمو، مستوفیت او نورو اړوند ولایتي ادارو له مسؤولینو سره وکتل.

د سترې محکمې یاد پلاوي له ولایتي مسؤولینو سره په ناستو کې د محاکمو د مالي او اداري چارو، د مرافعه محاکمو، نظامي محاکمو، د حقوقو ریاستونو او نظامي قطعاتو ترمنځ د همغږۍ پر تقویې او د یادو ادارو د چارو د تنظیم په اړه په خبرو سربېره د یادو ادارو ضروریات او اړتیاوې بررسي کړې.

دغه راز د سترې محکمې پلاوي په یادو ولایتونو کې هغه ملکیتونه تشخیص کړل چې تر دعوی لاندې وو او د یادو ملکیتونو پر سر راپورته شوو دعواوو ته یې حللارې پیداکړې.

## د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات په هدایت یوه پلاوي جنوب لوېدیځ زون ته سفر وکړ

د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په هدایت مؤظف پلاوي چې په تشکیل کې یې د پلان او پالیسی ریاست د برنامو او پروژو څخه د څار او ارزونې آمر محترم مولوي محمدطاهر (طیب) او د تعمیراتو آمریت انجنیر وحیدالله (امیرزي) ګډون درلود، په ساختماني برخه کې د محاکمو د اړتیاوو معلومولو په موخه د هیواد جنوب لوېدیځ زون اتو ولایتونو ته سفر وکړ.

د سترې محکمې یاد پلاوي د جنوب لوېدیځ زون د قضائي تفتیش د غړي الحاج مولوي محمدهاشم (الهام) او د اړوند ولایت د مرافعه محکمې د رئیس په ملتیا او همکارۍ د اتو ولایتونو (بادغیس، هرات، هلمند، فراه، نیمروز، کندهار، روزګان او زابل) له محاکمو لیدنه وکړه.

یاد پلاوي د خپل سفر په ترڅ کې په ساختماني برخه کې د محاکمو اړتیاوې له نږدې وکتلې، په اړه یې د مربوطه محاکمو له مسؤولینو سره خبرې وکړې ، د دوی نظر او وړاندیزونه یې واورېدل.

د سترې محکمې یاد پلاوي د خپل ۱۳ ورځني سفر په ترڅ کې په ساختماني برخه کې د محاکمو د سروې تر بشپړولو وروسته د هغوی اړتیا اولویت بندي او بشپړ راپور یې د سترې محکمې له عالي مقام سره شریک کړ.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۱**
**نېټه: ۲۰ /۱۴۴۵/۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
و بعد: دا چې په دې وروستیو کې جعل کارۍ ځینې قضیې محاکمو ته راغلي نو په دې اساس د جعل او تزویر د مخنیوي موضوع د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۵/۳/۱۹ هـ ق ته وړاندې شوه په اړه یې د سترې محکمې عالي شورا د تصویب نمبر (۷) د درېمې پرېکړې په اساس د سترې محکمې د امنیت عامه دیوان رئیس محترم شیخ جلال الدین «حقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د جزاء دیوان یو ملګري، د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست یو ملګري او د کابل ولایت د مرافعه محکمې یو ملګري په ګډون کمېټه تعین شوه تر څو د جعل کارۍ د مخنیوي او د جعل کارانو ته د سزاء لپاره طرزالعمل جوړ کړي، د یاد هدایت مطابق ټاکل شوي هیئت د جعل کارۍ څخه د مخنیوي او د جعل کارانو د سزاء په اړه طرزالعمل ترتیب کړ او د سترې محکمې د عالي شورا مجلس مورخ مورخ ۸/جمادی الأولی/۱۴۴۵ هـ ق مصادف ۱/قوس/۱۴۰۲ هـ ش ته وړاندې شو په اړه یې عالي شورا د تصویب نمبر (۱۱) د دوهمې پرېکړې په اساس، په یاد طرزالعمل کې د ځینې مواردو د اصلاح کولو تر څنګ داسې هدایت وکړ:
((...د جعل کارۍ څخه د مخنیوي او د جعل کارانو د سزا طرزالعمل تائید دی ټولو محکمو ته دې په متحدالمآل شکل واستول شي.))
بناءً د سترې محکمې د عالي شورا د پورته تحریر شوي هدایت مطابق، د جعل کارۍ څخه د مخنیوي طرزالعمل ددې متحدالمآل مل په (۵) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغه مطابق اصولي اجراآت تر سره شي .

پاتې برخه ص۴

**په نبوي دوره کې د قضاء مأخذونه:**
**دویمه برخه**

دا متفق علیه او په دلائلو ثابت مأخذونه دي، چې یوه بېلګه یې د معاذ بن جبل رضي الله عنه حدیث دی، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یمن ته د ده د لېږلو هوډ وکړ، نو ورته ویې ویل: کله چې څه پرېکړه درته راشي څنګه پرېکړه به کوې؟
هغه وویل: د الله په کتاب به پرېکړه کوم.
ـ که د الله تعالی په کتاب کې پیدا نه شي؟ هغه وویل: د رسول الله په سنتو پرېکړه کوم. بیا یې ورته وویل: که دواړو کې یې پیدا نه کړې؟ هغه وویل: په خپله رایه اجتهاد کوم. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه په سینه وواهه او ویې ویل: ثناء هغه ذات لره ده چې د خپل رسول استازي ته یې د هغه څه توفیق ورکړ په څه چې د الله رسول راضي دی. (سنن ابو داؤد).
همدارنګه د ام سلمې رضي الله عنها په یو روایت کې راځي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه دوو تنو ته چې د خپل هغه میراث په دعوه کې راغلي وه، کوم چې د ځینې څېزونو نښې یې ختمې شوي وې، وویل: دا ښکاره خبره ده، دکوم څه په اړه چې په ما څه نه وي نازل شوي، په هغه مورد کې زه په خپله رایه پرېکړه کوم. ( رواه ابو داؤد)
او له دې جملې څخه د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حدیث دی، فرمایي: چاته چې کومه پرېکړه راشي، نو هغه دې د قرآنکریم په رڼا کې پرېکړه ورته وکړي، که چیرې داسې پرېکړه وه چې په قرآنکریم کې موجوده نه وه، نو په هغه څه دې پرېکړه وکړي کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په کړې ده، که بیا هم چیرې داسې پرېکړه راشي، چې نه په قرآنکریم کې موجوده وه او نه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه په اړه کومه پرېکړه کړې وه، نو په هغه څه دې پرېکړه وکړي، کوم چې اسلافو ویلې وي او که چیرې داسې پرېکړه راشي، چې نه په قرآنکریم کې موجوده وي، نه رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغه اړه پرېکړه کړې وي او نه هم د اسلافو پرېکړه شتون ولري، نو خپل په اجتهاد دې پرېکړه وکړي او که چیرې یې کومه نېکه رایه ورسره نه وه، نو بیا دې وضاحت ورکړي او دې کې دې شرم نه کوي. ( رواه الحاکم في المستدرک.
اخذلیک: تتمة النظام، ۳۷ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## محاکم فاریاب طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۳۳۶) دوسیه، به تعداد (۲۴۹) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۷۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۳۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۳۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۲۴۹) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بغلان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۳۷۳) دوسیه، به تعداد (۱۹۶) وثایق نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بغلان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۴۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۴۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۶) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۴) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت بغلان به تعداد (۱۹۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم بدخشان طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۳۴۲) دوسیه، به تعداد (۳۵۰) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بدخشان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۱۷۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۵۶) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۱۹۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۲۵) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۴۰) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۳۵۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۲۴۱) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۰۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې د (۲۴۱) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۰۰) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۶۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه (۲۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۴۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۴۱) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت (۱۰۰) بېلا بېل وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم هرات طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۴۲۸) دوسیه، به تعداد (۴۲۱) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت هرات، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی، تجارتی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۱) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت. از آن جمله (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۷۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۱) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۱۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۵۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۹۳) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت. از آن جمله (۳۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۳۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در ولایت هرات به تعداد (۴۲۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې د (۴۳۰) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۱۶۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې، د زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۲۶/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه تر ۷/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې د (۴۳۰) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۱۶۸) وثیقې هم اجراکړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۲۳۶) حقوقي دوسیې محاکمو ته واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه (۵۵) دوسیې فیصله شوې، (۳۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۸۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۸۰) جزائي دوسیې محاکمو ته واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه (۷۹) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۷۴) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۶۸) بېلا بېلې وثیقې هم اجراکړې دي.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۲۹۳) دوسیو پر حل او فصل سربېره (۲۷۱) وثیقې هم اجراء کړې دي

د خوست ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۵/ ۱۴۴۵هـ ق نېټې څخه ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټې پورې د (۲۹۳) دوسیو پر حل او فصل سربېره، (۲۷۱) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې (۱۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (۱۴۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۰) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې (۴۰) دوسیه مکتوبي مستردې شوې، د (۲۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳۶) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۲۹) ببلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## دکابل ولایت د مرافعه محکمې دېوانونو په دوو اونیوکې (۱۰۱) دوسیې حل او فصل کړې دي

د کابل ولایت د مرافعه محکمې دېوانونو په دوو اونیو کې له (۱۵/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې (۱۰۱) جزائي، نظامي، حقوقي او تجارتي دوسیې حل او فصل کړې دي.

**۱- د دې محکمې د جزا دېوان:**

د جزا دېوان ته په دوو اونیو کې (۷۲) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۹) دوسیې فیصله شوې، د (۸) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۲- د دې محکمې د عامه امنیت دېوان:**

د عامه امنیت دېوان ته په دوو اونیو کې (۳۴) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۸) دوسیې فیصله شوې، د (۱۱) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۳- د دې محکمې د نظامي منسوبینو دېوان:**

د پوځي منسوبینو دېوان ته په دوو اونیو کې (۳) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۱) دوسیه فیصله شوې، د (۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱) دوسیه مکتوبي مسترد شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۴- د دې محکمې مدني دېوان:**

مدني دېوان ته په دوو اونیو کې (۲۵) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۳۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**۵- د دې محکمې تجارتي دېوان:**

تجارتي دېوان ته په دوو اونیو کې (۱۶) دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## محاکم سمنگان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۹۴) دوسیه، به تعداد (۱۲۰) وثایق را نیز اجرا کرده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت سمنگان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها از تاریخ ( ۲۵/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۷/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۵) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه نیز تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۴) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۳۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۶) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۱۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت سمنگان به تعداد (۱۲۰) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم بادغیس طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۵۱۵) دوسیه، به تعداد (۱۹۶) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بادغیس، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۸/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۸/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۹۷) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۸۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵۳) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کارمی‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۸۶) دوسیه وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۷۸) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۲) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کارمی‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بادغیس به تعداد (۱۹۶) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم غزنی طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۸۲) دوسیه، به تعداد (۲۴۱) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیه ولسوالی ها از تاریخ ( ۱/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۵۶) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۵۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۹) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته (۱۵) جزائی دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۷) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۲۴۱) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم پروان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۰۵) دوسیه، به تعداد (۱۱۸) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی ها از تاریخ ( ۲۵/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۷/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۴۹۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۷۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۲۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۵) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۱۸) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم پنجشیر طی یک ماه علاوه بر حل و فصل (۳۴) دوسیه، به تعداد (۷۷) وثایق را نیز اجرا کرده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پنجشیر، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق الی ۱/ ۶/ ۱۴۴۵ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۳) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، در رابطه به (۱۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰) دوسیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۷) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۶) دوسیه فیصله شده، در رابطه به (۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت پنجشیر به تعداد (۷۷) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د جنوب لوېدیځ زون د تفتیش د عمومي ریاست پلاوي د هرات له ښاري محکمې څخه لیدنه وکړه

د جنوب لوېدیځ زون د تفتیش عمومي ریاست یوه څلور کسیز پلاوي چې په تشکیل کې یې د یاد تفتیش قضائي معاون شتون درلود په ۱۴/ ۵/ ۱۴۴۵ هـ ق نېټه د دغه زون د تمیز ریاست او د سترې محکمې د قضائي معاونیت د محترم مقام د هدایت په اساس د خپل تفتیشي پلان له مخې د هرات ولایت له ښاري محکمې څخه لیدنه وکړه.

د قضائي تفتیش پلاوي د خپل طرزالعمل مطابق د هرات ولایت له ښاري محکمې د لیدنې پر مهال د دې محکمې له عامه امنیت دېوان، د جزا دېوان، مدني دېوان، د تجارت دېوان او ترافیکو دېوان څخه لیدنه وکړه، ورپسې یې د یادې محکمې فیصلې، د عریضو د ثبت کتاب، د حقوقي، جزائي دوسیو د ثبت کتابونه، وارده او صادره کتابونه، د رسیداتو کتاب، د حاضرۍ کتاب او درې میاشتنۍ راپورونه په غور او دقت وکتل او په دې برخه کې د لا ښه فعالیت په موخه یې اړوند مسؤولینو ته لازمې سپارښتنې او لارښوونې وکړې.

په دې سربېره د تفتیش ریاست پلاوي د دې محکمې منسوبینو ته په قضائي او اداري چاروکې د ظرفیت لوړونې په موخه لنډ مهاله سیمینار ورکړ.

یاد پلاوي د خپل سفر په دوام د بندیانو له محبس څخه لیدنه وکړه، د بندیانو بشپړ شهرت، وضعیت یې له ځان سره ولیکه او بیا یې د یادو محاکمو سره تفصیلاً شریک کړ.

د یادې لیدنې په پای کې د جنوب لوېدیځ زون د تمیز ریاست او د سترې محکمې عالي مقام د قضائي معاونیت د هدایت په اساس دوه رسالې، یوه رسمي جریده او دوه د شرعي نظام په استحکام کې د اطاعت اغیزې چې د محترم مشرتابه له طرفه رالیږل شوي، د یادې محکمې قضائي غړو ته ورکړل شول.

سرپرست مسئول مدير: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډيټور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

دوام...

## د جعلکارۍ د مخنيوي او جعلکارانو ته د سزا ورکولو طرزالعمل

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضات صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د ١٤٤٥ه ق کال په شپږمه غونډه کې د جعل او تزوير د مخنيوي په منظور د سترې محکمې د امنيت عامه ديوان د رئيس شيخ جلال الدين (حقاني) صاحب په مشرۍ، د جزاء ديوان، د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست او د کابل ولايت د مرافعه محکمې د ملګرو څخه جوړې کميټې ته دنده وسپارل شوه تر څو د جعل او تزوير څخه د مخنيوي په منظور د جعلکارانو لپاره د جزاګانو يو طرز العمل په يوه اونۍ کې جوړ کړي او تر جوړېدو وروسته دې عالي شورا ته وړاندې کړي.

يادې کميټې د جعل او تزوير د جوړوونکو، استعمالوونکو او سهولت کارانو لپاره يو طرز العمل چې په دوو مباحثو، (٣٢) مادو او پنځو اجزاوو مشتمل دی جوړ او عالي شورا ته د تائيد لپاره وړاندې کړ.

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي شورا په ٨/جمادى الأولى/١٤٤٥ هـ ق نېټه ناسته کې چې د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د جعلکارۍ د مخنيوي او جعلکارانو ته د سزا ورکولو طرزالعمل تائيد کړ.

د ياد طرزالعمل تفصيل په لاندې ډول دی:

بسم الله الرحمٰن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلٰوة والسلام علٰى سيد المرسلين وعلٰى آله و أصحابه أجمعين، أما بعد:

**فأعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم، بسم الله الرحمٰن الرحيم: وَالَّذِينَ لا يَشْهَدونَ الزّورَ وَإِذا مَرّوا بِاللَّغوِ مَرّوا كِرامًا. (سورة الفرقان/ آية:٧٢) فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ. (سورة الحج/ آية:٣٠)**

عن عبد الرحمن بن أبي بكرة، عن أبيه قال: «قال النبي ﷺ: (ألا أنبئكم بأكبر الكبائر). ثلاثا، قالوا: بلى يا رسول الله، قال: (الإشراك بالله، وعقوق الوالدين ـ وجلس وكان متكئا، فقال — ألا وقول الزور) قال: فما زال يكررها حتى قلنا: ليته سكت.»صحيح البخاري (١٧٢/٣)

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: « من حمل علينا السلاح فليس منا، ومن غشنا فليس منا. » صحيح مسلم (رقم الحديث: ١٠١)

من موجبات التعزير كتابة الصكوك والخطوط بالتزوير. الهنديه (١٦٩/٢)

والتعزير مفوض إلى رأي الإمام. رد المحتار (٦٠/٤)

في هذه الجريمة التعزير، فقد روي: أن معن بن زياد عمل خاتما على نقش خاتم بيت المال فأخذ مالا، فضربه عمر رضي الله عنه مائة جلدة، وحبسه، ثم ضربه مائة أخرى، ثم ثالثة، ثم نفاه. ومن موجبات التعزير: كتابة الخطوط والصكوك بالتزوير. الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٨٣/١٢)

والتعزير مفوض للدولة في كل زمان ومكان، فإنها تضع للقضاة أنظمة يطبقونها بحسب المصلحة. الفقه الاسلامية و أدلته للزحيلي(٣١٤٥/٤)

والتعزير: تأديب على ذنوب لم تشرع فيها الحدود، ويختلف حكمه باختلاف حاله وحال فاعله، فيوافق الحدود من وجه أنه تأديب استصلاح وزجر، يختلف بحسب اختلاف الذنب. أحكام السلطانية للماوردي(٣٤٤)

ولا شك في وجود الضرر إذا أضر التزوير بالمصالح المالية للدولة. الموسوعة الجنائية (٤٠٧/٢)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضاة صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د ١٤٤٥ه ق کال په شپږمه غونډه کې د جعل او تزوير د مخنيوي په منظور د سترې محکمې د امنيت عامه ديوان د رئيس شيخ جلال الدين (حقاني) صاحب په مشرۍ د جزاء ديوان، د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست او د کابل ولايت د مرافعه محکمې د ملګرو څخه جوړې کميټې ته دنده وسپارل شوه تر څو د جعل او تزوير څخه د مخنيوي په منظور د جعلکارانو لپاره د جزاګانو يو طرز العمل په يوه اونۍ کې جوړ کړي او تر جوړېدو وروسته دې عالي شورا ته وړاندې کړي، د يادې کميټې له لوري د جعل او تزوير د جوړوونکو، استعمالوونکو او سهولت کارانو لپاره يو طرز العمل جوړ شو چې پر دوو مباحثو مشتمل دی:

اول مبحث پر (١٢) مادو مشتمل دی چې د جعل او تزوير څخه د مخنيوي په موخه ځيني سفارښتنې په کې شوې دي او دوهم مبحث پر پنځو اجزاوو او (٢٠) مادو مشتمل دی چې د جعل او تزوير د وقوع په صورت کې جزاګانې ورته ټاکل شوې دي.

### اول مبحث

جعل او تزوير په هر هيواد او په هره اداره کې عام شوی هغه ناوړه عمل دی چې په کامله توګه ځان ور څخه خلاصول تقريباً نا ممکن دي.

اما ځيني داسې لارې شته چې په کار اچولو سره يې په ادارو کې د جعل او تزوير کچه ټيټيدلی شي، لکه:

**لومړۍ ماده:** د جعل کارانو لپاره د سختو جزاګانو طرزالعمل جوړول، لکه بندي کول، په اخترونو کې د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله د عفوې د فرمانونو څخه مستثنی کول، د جواز لغوه کول او که مجرم رسمي کس وي د تکرار په صورت کې له صفه ايستل او داسې نور...!

**دوهمه ماده:** د امارتي ادارو په رسمي مکتوبونو کې د داسې کاغذ استعمال چې د هغه د نوع او رنګ د استعمال او چاپولو بل چاته اجازه نه وي، نه شخص او نه چاپوونکي شرکت او مطبعې ته.

**درېيمه ماده:** د امارتي ادارو پر رسمي مکاتبو د اسکين د جوړولو او په هره اداره کې د اسکين ماشينونو د فعالولو لپاره هڅه او د ټولو ادارو په مراسلاتو کې د يوه مشخص کوډ درجول.

**څلورمه ماده:** د ټولو مراسلاتو استول دې د رسمي (آرشيف) له لارې تر سره شي، مراجعينو ته دې په لاس نه ور کول کيږي.

**پنځمه ماده:** کوم مراجعين چې رسمي ادارو ته مراجعه کوي بايد په موضوع کې ذي دخل وي او يا د رسمي ادارو له لوري معرفي شوی وي.

**شپږمه ماده:** د هر ارګان مأمورين دې تر خپل صلاحيت پورې محدود شي او مرسل إليه دې هم د مرسِل د صلاحيت ارزولو وروسته اجراآت کوي.

**اوومه ماده:** د عاجلو معلوماتو په موخه دې د مسؤلينو واټساپ شمېره او ايميل ادرس مربوطو ادارو ته واستول شي، تر څو د شک په صورت کې ژر تحقيق وکړل شي.

**اتمه ماده:** هره اداره دې د استول شوي مکتوب يوه کاپي خامخا د ځان سره ثبت کړي تر څو د جعل په صورت کې اصل ته مراجعه آسانه شي.

**نهمه ماده:** پر مدافعو وکيلانو دې د عدليې وزارت له لوري لازم قيودات وضع شي او د جواز په وخت دې ور څخه کلک تضمين واخيستل شي چې د تزوير په صورت کې به عدلي او قضائي ارګانونو ته معرفي کيږي.

**لسمه ماده:** د امارتي ادارو پر رسمي مکاتبو بايد يو داسې مهر يا نښان شتون ولري چې بل ځای ور څخه استفاده نشي کېدلی، همداسې دې پر هر رسمي مکتوب د ادارې ټاپه لازمي وګڼل شي.

**يوولسمه ماده:** د امارتي ادارو په ټولو رسمي مکاتبو کې دې تاريخ او عدد په الفاظو کې هم وليکل شي، لکه(٥٥) پنځه پنځوس...

**دوولسمه ماده:** ټولې مطبعې او چاپ خانې بايد جدي تعقيب شي او که کومه مطبعه د جعل او تزوير د اسبابو د جوړونې په تور ونيول شي د جواز د لغوه کيدو سربيره بايد ټاکلې جزاء ور کول شي.

### دوهم مبحث

**(اول جزء)**

**لومړۍ ماده:** د افغانستان اسلامي امارت د عاليقدر امير المؤمنين حفظه اللّٰه په فرمانونو او حکمونو، د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي القضات صاحب په حکمونو، د رياست الوزراء محترم مقام په حکمونو، د اسلامي امارت د وزيرانو شورا (کابينې) او د سترې محکمې د عالي شورا په تصويبونو، د يادو اشخاصو او ارګانونو په مهرونو او لاسليکونو او د محاکمو په قطعي فيصلو او حکمونو کې تزوير کوونکی (جوړوونکی) کس بايد په (٥) کاله بند محکوم شي.

**دوهمه ماده:** په لومړۍ ماده کې د مذکورو تزوير شويو اشياوو د علم باوجود کاروونکی کس بايد په (٤) کاله بند محکوم شي.

**درېيمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که ياد جرم په تکرار سره ترسره کړي (او تکرار يې په ثبوت ورسيږي) بايد په اصل قيد کې يې (٢) کاله اضافه کړل شي.

**څلورمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که د يادو ادارو رسمي مأمور وي بايد په اصل قيد کې يې (٢) کاله زيات کړل شي.

**(دوهم جزء)**

**لومړۍ ماده:** د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء د معاونينو، دکابينې د وزيرانو، د لوی رياستونو د رئيسانو، د ولايتونو د واليانو او امنيه قومندانانو په مکتوبونو، امضاګانو او مُهرونو کې تزوير کوونکی (جوړوونکی) کس بايد په (٣) کاله بند محکوم شي.

**دوهمه ماده:** د وزارتونو د معينانو، د سترې محکمې اړوند رياستونو د رئيسانو، د لويو رياستونو د معاونينو په مکتوبونو امضاګانو او مهرونو کې تزوير کوونکی (جوړوونکی) کس بايد په (٢) کاله بند محکوم شي.

**دريمه ماده:** په پورتنيو دوو مادو کې د مذکورو تزوير شويو اشياوو د علم باوجود د کاروونکي قيد بايد (٦) مياشتې کم وي.

**څلورمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که ياد جرم په تکرار سره ترسره کړی وي (او تکرار يې په ثبوت ورسيږي) بايد په اصل قيد کې يې (٦) مياشتې اضافه کړل شي.

**پنځمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که د يادو ادارو رسمي مأمور وي بايد په اصل قيد کې يې (٦) مياشتې زيات کړل شي.

**(درېيم جزء)**

**لومړۍ ماده:** په پورتنيو دوو اجزاوو کې د ذکر شويو اشخاصو او ارګانونو ماسوا د نورو ټولو ارګانونو اړوند د رياستونو د رئيسانو، د ولسواليو د ولسوالانو او امنيه قوماندانانو په مکتوبونو، امضاګانو او مُهرونو کې تزوير کوونکی (جوړوونکی) کس بايد په يو (١) کال بند محکوم شي.

**دوهمه ماده:** په لومړۍ ماده کې د مذکورو تزوير شويو أشياوو د علم باوجود کاروونکی کس بايد په (٩) مياشتي بند محکوم شي.

**درېيمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که ياد جرم په تکرار سره ترسره کړی وي (او تکرار يې په ثبوت ورسيږي) بايد په اصل قيد کې يې (٣) مياشتې إضافه کړل شي.

**څلورمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که د يادو ادارو رسمي مأمور وي بايد په اصل قيد کې يې (٥) مياشتې زيات کړل شي.

**(څلورم جزء)**

**لومړۍ ماده:** د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو اړوند په ټولو وثائقو (لکه شرعي قباله او داسې نور...) کې تزوير کوونکی (جوړوونکی) کس دې په (٣) کاله بند محکوم شي او د علم باوجود کاروونکی کس دې په (٢) کاله بند محکوم شي.

**دوهمه ماده:** په پورتنيو اجزاوو کې د ذکر شويو اشخاصو او ارګانونو پرته د نورو رسمي ادارو په مکتوبونو، رسمي، دولتي سندونو او د مسئولينو په امضاګانو او مهرونو همداسې د بانکونو په اسنادو کې تزوير کوونکی (جوړوونکی) کس دې په (٢) کاله بند محکوم شي او د علم باوجود کاروونکی کس دې په (يو نيم) کال بند محکوم شي.

**درېيمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که ياد جرم په تکرار سره ترسره کړی وي (او تکرار يې په ثبوت ورسيږي) بايد په اصل قيد کې يې (٦) مياشتې اضافه کړل شي.

**څلورمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که د يادو ادارو رسمي مأمور وي بايد په اصل قيد کې يې (٩) مياشتې زيات کړل شي.

**(پنځم جزء)**

**لومړۍ ماده:** د ټولو غير دولتي ادارو، خصوصي او شخصي شرکتونو، تعليمي ادارو او همداسې په نورو غير دولتي اسنادو کې تزوير کوونکی (جوړوونکی) بايد په (٦) مياشتې بند محکوم شي.

**دوهمه ماده:** په لومړۍ ماده کې د مذکورو تزوير شويو اشياوو د علم باوجود کاروونکی کس بايد په (٤) مياشتې بند محکوم شي.

**درېيمه ماده:** د پورتنيو جرائمو مرتکب که ياد جرم په تکرار سره ترسره کړی وي (او تکرار يې په ثبوت ورسيږي) بايد په اصل قيد کې يې (٣) مياشتې اضافه کړل شي.

ميزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ٠٢٠٢٣٠٠٣٦١
٠٢٠٢٣٠٢٢٦٣